شیرمحمد امیني ستانکزی ۲۰۱۷/۰۶/۱۹

# ترکومې ورځې به په هیواد کې بدبختي وي؟

په افغانستان کې اوسنی کړکیچن حالات د افغانانو پام هغه لوري ته اړوي چې هیواد مو څو کاله مخکې د جګړو ډګر ګرځیدلي ؤ. داچې په هیواد کې اوسني ناورین په افغانانو څه اغیزه کوي، دا هغه څه دي، چې دبنمن له موکې څخه ګټه پورته کوي او څه چې زړه یې وغواړي، هغه ترسره کوي.

د څو ورځو را په دیخوا د هیواد په ځیني سیمو او د پلازمیني کابل په ګډون د بهرڅخه پلان شوي ترهګریز او بمي بریدونه ترسره شول، چې زموږ د هیواوالو د ژوند اخیستو او د تپي کیدو لامل شول.

دا ترهګریز او تروریستي بریدونه چې ویل شوي، په ګاونډ پاکستان کې پلان شوي د خپلو غولول شویو همکارانو په مرسته بیګناه افغانان وژني او هیواد مو په ویجاړیو بدلوي، خو دبنمن ـ دبنمن دی، ځکه هغه په هیڅ ډیز صرفه نه کوي، چې واریي برابر شو هغه ترسره کوي.

موږ د حکومت ترقیادت لاندې ژوند کوو، ډیر خلک د خپل حکومت ملاتړي دی ، خو په همدې نظام کې داسي لوړ پوړي چاروکي شتون لري چې د حکومت په نړیدو خوښ برېښي او غواړي چې په هیواد کې مخکنی ناورین یوځل بیا رابرسیره شي.

د دې لپاره حکومت هیڅ غبرګون نه دی ښودلی، ځکه د ډیرو افغانانو ذهنونه یې بل لوري ته مغشوش کړي او حکومت چوپه چوپتیا غوره کړي ده.

دا منو چې جنګ پردی دی، ولې قرباني یې بیګناه ولس ورکوي. په کابل کې د موټر بم چاودنه وشوه، دغه پړه پر حکومت اچوو چې ولې د دې چاودني مخنیوی نه دی شوی. سمه ده، دا به ومنو؛ خو د معترضو لاریون کوونکو تر منځ ځینی مغرضو کسانو د خلکو سوله ئیز لاریون په وحشت بدل او د ډیریو افغانانو ویني یې تویي کړي .

د دې لاریون رهبری هغو کسانو په لاس کې واخیسته چې د سوله ایز لاریون په ځای د ارګ تړي ول او غوښتل یې چې ارګ ته ننوزي.

دې کسانو د خلکو له احساساتو ناوړه ګټه واخیسته او لاریون یې د خپلو شخصی او سیاسی غرضونو له پاره استعمال کړ .

د دوی له خوا د تحصن خیمي په دې مانا نه دي، چې د شهیدانو او ټپیانو د عدالت غوښتنه وشي، بلکې دا دولس او د کابل ښاریانو د ځوروني یوه ستره بیلګه ده. ترافیکي لارې د خلکو پرمخ تړلي دي، نو په دغه سختو ګرمیو کې چې روژه هم د خلکو په خولې کې وي، هغه بیچاره به څه کوي؟ داچې خلکو ته سل نور مشکلات او ستونزې مخ کې دي، یابه ناروغان له یو ځای نه بل ځای ته وړي او یا داچې د خوارۍ او غریبۍ لپاره هلې ځلې کوي، خو پروړاندي یې سل خنډونه رامنځته کړي دي.

افغان ولس نور د جنګونو څخه ستړي شوي او نه غواړي چې په هیواد کې ستر ناورین رامنځته شي. دوی کوښښ کوي چې د خپل حکومت سره اوږه پر اوږه کار وکړي، خو د حکومت په دننه کې چې شریري او ویجاړونکي کړۍ شته دي، نه غواړي چې هیواد د پرمختګ شاهید و اوسي، ځکه دوی د بهرنیو هیوادونو ګوډاګیان دي ، دوی دوه مخي انسانان دي، که حکومت په دنده کې ستر واک او صلاحیت ورکړ، بیا نو د حکومت غلامان دي او که د واک نه یې وغورزول، نو د حکومت ستر دبنمن هغه د خلکو خبره نور بیا بچه ترسانک کوي او خود مختاره حکومت اعلانوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

ترکله به دالوبي وي؟ ترکله به حکومت هم د داسي مخالفو ډلو په لانجو او پخلا کيدو کي وخت تيره وي او دغريبو له حال څخه به څوک خبر وي.

بس نور جنګ نه غواړو، پرمختګ غواړو، سوله ، امن، يووالی او د بې ګټي تحصن د خيمي دلرې کيدو غوښتونکي يو، د زورواکو او پرديو جاسوسانو د محاکمه کولو هيله له دولت نه کوو، دولت نه د ټولو افغانانو يوازينی غوښتنه داده، چي د وسلوالو مخالفو سره چي ترکوم بريده جنګيږي، په نظام کي فعال واکدارانو مخه هم په هماغه شان ونيسي، ځکه دا دمخالفو وسله والو نه ډير ضرر رسوونکي دي، همدوی په ښکاره ډول د حکومت پښې وهي.
که چيرته قانون پلي کيږي، بايد په ټولو يوشان عملي شي، داچي نن ورځ په خوار او غريب باندې قانون پلي کيږي، زور واکي هم بايد د عدالت ميز ته راکش کړل شي او ورځني وپوښتل شي.

نور په افغانستان کي د لوبي ختميدل اود حکومت په چوکاټ کي د زورواکو لرې کول غواړو، ترڅو نور په هيواد کي شته نا‌ندرې او بدبختي له منځه ولاړه شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ